الحاج مولوي زین الله منلی ۲۰۱۳/۰۹/۲۸

# لکه چې زه هم زړه لرم

هنر د څه له پاره؟
دا پوښتنه له عمرونو راهیسي د کره کتونکو سره شته او لا به هم وي. د استاد زین الله منلي دغه کوچنۍ لیکنه په اشاره کي دې پوښتنې ته یو جالب ځواب لري. هغه انسان چې د ژوند ناخوالو پر دې قانع کړی دی چې «زه د ښکلا پيژندني ذوق نه لرم»، هغه انسان چې دا انګيري چې نه مين شوی او نه پرې د چا مينه راغلې په يوه ډکشنري کي ليدلی انځور يې بالاخره دې نتيجې ته رابولي چې «لکه چې زه هم زړه لرم». د هنر غايه تر دې پورته څه کېدای شي؟
د دې تر څنګه، د استاد زين الله منلي دا ساده ليکنه له يوې بلې زاويې هم د ځوانو ليکوالو او د ادب مينه والو ته د پام وړ ده: ليکوال د خپل ژوند يو څو صحنې او د درباري ژوند يو څو سانحې سره رانغاړي، هيڅ ډول تيوري نه ځيري، اوږدې خبرې نه کوي خو له لوستونکي سره د يو برياليي هنري اثر ټول خوند او ټوله مالګه شريکوي. دا هم د «هنر د څه له پاره» پوښتنې ته په خپل وار يو په زړه پورې ځواب دی او هم د هنري نثر ليکنې يو ښه لارښود.
نجیب منلی

يو مهال مې د عربي ژبې د المنجد په نوم کتاب کي د اعلامو برخه کتله. يو ښکلی انځور مې په کي وليد چې د يو عاشق او يوې معشوقې تصوير و.
دا مين او مينه، سليم نورالدين جهانګير او مهرنسأ نور جهان وو.
زه د ښکلا پيژندني ذوق نه لرم. زما پر هيچا مينه نه ده راغلې نو داسي ګنم چې زه به هم د چا نه يم خوښ شوی.
يوازې يوه د کوچنيتوب خاطره مي په زړه ده او هغه دا ده چې کله چې زه په ګرزېدو راغلی يم نو زما له خپلې مور سره مينه نه وه او هغې به هم زه کله کله ځورولم. زه په خپله ګناه نه پوهېدم چې ولې مې کله يو سوک، څپېړه وهي او کله راته وايي «ژر ځوانيمرګ شې!»
زه د ځوانيمرګ په مانا هم نه پوهېدلم خو چې د مور تروې تندې ته به مې وکتل نو له دې تروې تندې سره ملګرې وينا، «ژر ځوانيمرګ شې!»، به مې هم نه خوښېده او خواشينی به شوم.
همدا وه چې زه به د شپې له خپلې انې سره څملاستلم. له مور څخه مې کرکه کوله.
يوه ورځ، درې، درې نيم کلن به وم، خپلې انې ګودر ته له ځان سره بيولی وم. زما د انې همزولې يوه ښځه وه چې زما د انې نوم يې واخيست او ويې ويل: «د ښاپيرۍ لمسی تر هر څه پورې ښايسته دی!»
د دې ښځې له دې خبرې را ته داسي ښکاري چې زه به يې هغه مهال خوښ شوی وم، نور نه پوهېږم چې کله د چا خوښ شوی يم که نه؟
د ژمي مهال و. مور مې په کوټه کي اور بل کړی و. په دې وختونو کي هلکانو او نجونو ته چا تر اوه، اته کلنۍ پورې پرتوګ نه وراغوسته. يوازې يو اوږد خت يې درلود چې تر ښنګرو به رسېده. کله به چې کوم هلک ته مور او پلار پرتوګ وکړ نو دا هلک به په لومړيو وختونو کي، تر څو ورځو پورې، د پرتوګ په اغوستلو شرمېده او زړه به يې نه کېده چې پرتوګ واغوندي. په دې کي زه هم مستثنی نه وم، پرتوګ مې نه درلود.
مور مې د کوټې په منځ کي د پخلي له پاره اور بل کړی و. د غواوو موتې شوې وچ خوشايه يې په نغري کي اېښې ول. اور ښه په خوند بلېده. زما هم ساړه کېدل. لمن مې پر خپلو زنګنونو ورجګه کړې وه او ځان مې تو داوه. په يو خوشايه کي يو وړوکی ګاټی و. چې خوشايه اور واخيست، ګاټی تود شو، د تمانچې په شان ټک يې وکړ، راغی، زما پر ورانه ونښت او سخت يې وسولم. زما انې وويل چې د هغې ښځې دې انصاف روزي شي، دا هلک هغې له نظره کړی دی چې ويې ويل د ښاپيرۍ لمسی تر هر څه پورې ښکلی دی. دا دې د هغې نظر تاثير وکړ او هلک وسو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له دي استثنايي مورد څخه پرته به البته زه د چا نه یم خوښ شوی لکه چي زما هم څوک نه دي خوښ شوي. خو په المنجد کي د جهانګیر او نورجهان تصویر راباندې اغیز وکړ او اوس یې یادونه کوم.
وايي چي د جلال الدين اکبر د پاچاهۍ پر مهال به په اونۍ کې یوه ورځ ښځينه بازار جوړېده چي ښځو به په کې په خپل لاسونو رغول شوي شیان پېرل او پلورل. ښه تود بازار به و. مینا بازار یې باله.
سلیم جهانګیر هم هلک و. زړه یې وشو چي دې بازار ته ولاړ شي. دوه کوترې يې پیدا کړې. یوه یې په یوه لاس کي نیولې وه، بله یې په بل لاس کي نیولې وه. بازار ته روان شو.
چي بازار ته نژدې شو د ډېرو ښکلو ګلانو اوډکی او پټکنکی یې ولید. د سلیم ورته زړه وشو، ويې غوښتل چي يو څو ښکلي ګلان راوشکوي. څرنګه چي د ده دواړه لاسونه په کوترو بند ول نو نه یې شو کولای چي ګلان راوشکوي. هلته یوه ډېره ښایسته، ښکلې نجلۍ ولاړه وه. سلیم ورته وويل: خورې ته زما کوترې ونیسه چي زه يو څو ګلان راوشکوم.
نجلۍ په دواړو لاسونو کي کوترې ونیولې او سلیم په ګلانو پسي پټي ته ورغی. چي ګلان یې راوشکول، بېرته نجلۍ ته راغی. ګوري چي له نجلۍ سره یوه کوتره ده او بله نه شته. سلیم نجلۍ ته وويل هغه بله کوتره دې څه کړه؟ نجلۍ ورته وويل چي هغه خو والوتله. سلیم ورته وويل چي څرنګه والوتله؟ نجلۍ خپل لاس جګ کړ، دا بله کوتره یې هم خوشي کړه اوويل چي داسي.
سلیم د نجلۍ په حرکت اغیزمن شو، ورته یې وويل : نوم دې څه دی او د چا لور یې؟
نجلۍ سلیم ته وويل چي نوم مي مهرنسأ دی، د واکمن د یو لوي پوځي میرزا غیاث لور یم.
سلیم نجلۍ ته وويل چي د لویانو او پوځیانو لونه خو زموږ مانۍ ته راځي، ته ولې نه راځې؟ ته خو ما تر اوسه پورې نه یې لیدلې.
نجلۍ وويل چي زما مور د واکمن ګړ ته ځي خو ما له ځان سره نه بیایي ځکه چي زموږ وګړي زما په څېر نجونو له کوره وتل ښه نه ګڼي، بې ادبي او سپین سترګي یې بولي.
سلیم ورته وويل چي زموږ کور، یاني د جلال الدين اکبر ګړ امن او خوندي ځای دی، تر دې وروسته له خپلې مور سره زموږ ګړ ته له نجونو سره راځه، ساعت به دې تېر وي او هېڅ ډار مه کوه.
تر دې وروسته، د سلیم د مور په غوښتنه، د مهرنسأ مور خپله لور هر وخت د واکمن ګړ ته بیوله او سلیم، چي زړه یې پرې بایللی و، هر وخت لیدله. د سلیم مور پوه شوه چي سلیم پر مهر نسأ مین دی خو نه جلال الدين اکبر په دې مینې خوښ و او نه د سلیم مور. واکمن میرزا غیاث ته وويل چي دا لور دې اوس پېغله ده، چا ته یې وروواده کړه. د سلیم مور هم د مهرنسأ مور ته امر وکړ چي لور مو پېغله ده د واده چاره یې وکړئ.
واکمن میرزا عبدالرحیم خان خانان د يوې سیمې د نیولو له پاره واستاوه. خان خانان طهماسپ قلي بېک، چي یو پیاوړی او اتل پوځي و، له ځان سره بوت. دوی چي له هغې سیمې څخه بېرته بریالي راستانه شول نو طهماسپ قلي بېک ته د ده د مېړاني په سبب د «شېرافګن» لقب ورکول شو.
واکمن او میرزا عبدالرحیم خان خانان، میرزا غیاث وهڅاوه چي خپله لور مهر نسأ شېرافګن ته وروواده کړي.
شېرافګن مهرنسأ واده کړه خو د دوی واده اوږد نه شو، شېرافګن مړ شو او مهر نسأ کونډه شوه.
څه مهال وروسته همدغه مهرنسأ د سلیم جهانګیر کور ته ولاړه او نور جهان شوه.
کوم تصویر چي ما د المنجد د اعلامو په برخه کي ولید او خوښ مي شو د همدغه سلیم شاه جهان او مهرنسأ نورجهان دی.

کابل، خیرخانه مېنه، د ۱۳۹۲د سنبلې ۲۰

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ